**AFGHAN GERMANONLINE**
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de

افغان جرمن آنلاین
مسؤولیت متن وشکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد

فارو

۲۸/۰۴/۲۰۲۱

په اروپاکی دمیشته افغانانو د ټولنوفدراسیون
فدراسیون سازمانهای افغانهای مقیم اروپا
Federation of Afghan Resident Organizations in Europe

*د بخښنې نړیوال سازمان د یوکتاب له مخې*

# د ۸ ثور د واکمنانو کړنو ته یوه کتنه

### د ثورد د اوومې او اتمې ناورین د کلیزې په مناسبت

*د۲۰۲۱ کال د اپریل ۲۷*

**سریزه:**

په دا ګی ډیری افغانان اتفاق نظر لری چې د ثور د اوومې نیتې خونړۍ کودتا او دخلک دموکراتیک ګوند د مشرانو لخواپلي شوي غیر عملی او تحمیلی پلانونه او دغیرحزبی خلکوبی ساری او سیستماتیک فزیکی تصفیه د افغانستان دسیاسي بې ثباتی ، کړکیچ ، تاوتریخوالي ، د روسیې نظامي یرغل ، د افغانستان په ختیځ او لویدیز ګاوندی هیوادونو کې د بهرني حکومتونو لخوا د هغوی د استراتیژیکو اهدافو پر بنسټ د تنظیمونو جوړیدل، د طالبانو د پروژې پلي کیدل، ګران هیواد د لسګونو بهرنیو هیوادونود عسکرو د جنګ په ډګربدلیدل، او د وطن د اوسني کړکیچن حالاتواساسی لامل او سرچینه ده. په بل عبارت زمو نږ داوسنۍ بشری بحران ریښي، د ۷ ثور خونړی کودتا ته رسیږی. لیکن د ګوتو په شمار دخلکی-پرچمی دوری پاتی شوی سپین ږیری لا تر اوسه پوری هم د هماغه تباه کوونکی منحله ګوند پلویان دي. د مثال په توګه نن د جلاد حفیظ الله امین د کابینی پخوانی وزیر عبدالرشید آرین د تره کي موزیم په کابل کی پرانیست. دا موزیم کی یواځی د خلک اوپرچم دمشرانو عکسونه لګول شوی دي. ددغه ګوندونو دجنایتون و عکسونه ، د ډله ایزقبرونو عکسونه، د لادرک شوی سیاسی بندیانو لیستونه، د ملیونونو مهاجرینو دکلاوونو عکسونه په دغه موزیم کی لیدل کیږی نه. آرین او دده د ملګرو هدف به بل وی، خو زمونږ په نظر دا موزیم یوه ګته لری. کله چی د راتلونکی نسلونو کوچنیان د افغانستان د بی پایه جنګونه او د روسییی او امریکا د نظامی مداخلی د اصلی مسئولینو په هکله پوښتنه وکی، د دوی ښوونکي کولی شی خپل زده کوونکي دتره کی موزیم ته بیایی تر څو دوی د خپل هیواد د تباهی د اصلی عاملینو عکسونه پکښی وګوری.

کله چی دوستم د نجیب د فرار مانع شو او دده رژیم ړنګ شو، دخلکو هیله دا وه چی په اصطلاح اسلامی تنظیمونو پر هغه زخمونو باندی مرحم کیږدی چی د هفت ثوری رژیم په ۱۴ کلنه توره دوره دزخمی ملت پرجسم او روح باندی لګول شوی وه . خو له بده مرغه، دا هیله هان د ۱۳۷۱ کال د ثور اتمی نه دوه ورځی دمخه د واکمنی پرسر د تنظیمونو د داخلی جګړی د پیل سره د نا امیدی په څپو کی ورک شو.

د ثور د اتمی واکمنان د واک ترلاسه کولو وروسته دا ثابته کړه چې دوی د روسانو او د هغوی د لاس پوڅي حکومت څخه په میراث پاتې شوي وضعیت نه شي سمبالولی ، بلکې وضعیت یې لا زیات خرابه کړل. د خادیست نجیب الله دیکتاتوررژیم، خپل



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پتهله موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

ځای بی بند وباره تنظیمی ملیشو ډلوته پرېښود. په تنظیمی پلاو کی ملیشیو لخوا دخلکوټولو بشري حقونو ، آزادیو ، انسانی کرامت او شخصی ملکیت نه سرغړوني يوه معمولی پیښه بلل کیده. د حفیظ الله امین لخوا رامینځته شوی او د نجیب الله لخوا پراخه شوی د قومونو ترمنځ نفاق اچونه، د تنظیم سالاری په دوره کی خپل اوج ته و رسیده. د ۱۹۹۲نه تر۱۹۹۵ کلونو په اوږدو کي د افغانانو د کړاوونو، د تنظیمی جګړی په ترڅ کی د جنګی جنایتونو د ارتکاب او د نظم او قانون د نشتون د عواقبویو لړ پيښي د عفوی نړیوال سازمان لخوا په ۱۹۹۵ کال کې په «افغانستان ، د بشرد حقوقودفاجعی په خاطر نړیواله ذمه واری» رساله کي انعکاس ورکړشوی دي.

**د نړیوال منل شوی معیارونو پر بنسټ، کله چې په یو هیواد کی جنګی حالت وی، ښایی په جګړه کی ښکیل ډلی او حکومت خپل کړني د ژنیو د ۱۹۴۸ بشردوستانه کنوانسیونونو د اصولو سره سم عیار کړی. د نوموړی کنوانسیونو نه، چې افغانستان یی غړیتوب لری، هره سرغړونه جنګی جرم بلل کیږی. د ۱۹۹۲ او ۱۹۹۵کال ترمینځ په جګړه کی ښکیل تنظیمونه او د جنرال دوستم ملی-اسلامی ګوند د نوموړی کنوانسیونونو نه په پراخه اندازه سرغړوني کړی دي چې د مثال په توګه څو نمونی یی د نړیوالی عفوی د ټولنی د نوموړی کتاب نه په لاندی کرښو کی نقل قول کیږی:**

**- په ملکی خلکو باندی نظامی حملی**

«د ۱۹۹۳ کال په یوه ورځ چې د نوموړی کال د نورو ورځو سره توپیر نه درلود، ګن شمیر خلکو په کابل کی د سرویس انتظار کاوه. څو شیبې پس، کوم وقت چې دالوتکی نه بمونه د سرویس تم ځای په شا او خواکی پریوځی، د خلکو د تن غړي یو له بله جلا کیږی، د انسانانو مړي هری خواته غورځیږی، د یوه سړی سر له تن څخه بیل شو، د څو شیبې په ترڅ کی ۸۰ کسه مړه یا ټپيان کیږی. دنړی په اکثره ښارونو کی دا ډول خونړی ورځی د ملی ماتم په توګه اعلانیږی. په افغانستان کی دا ډول غمیزی په ورځنی واقعیتونو بدل شوی دي. دیوه ګزارش پر بنسټ د سرویس د تم ځای سیمه او شا و خوا یی یواځی پدی نوم چې ویل کیده د هغی سیمي خلک د رقیبی ډلی پلویتوب کړي، حملی لاندی راغلل. شاهدانو ددی پیښی په برخه کی د سیمی د مسولینو د غیرګون په هکله وویل: د پیښی نه وروسته په عاجل ډول د تنظیمونو وسله وال ساتونکی چې سیمه یی په واک کی درلوده صحنی ته ننوتل او د مړو په لټونواو تالاشی یی پیل وکړ، ټولی پیسي او قیمتی شیان یی ځان سره یوړل.» (پانه ۳۹).

-«ټول هغه خلک چې په تیرو دری کلونو کی استوګنځای یی د تویخانی سره د قصدی حملی په نتیجه کی له مینځه تللی، لسګونه زرو ته رسیږی... نړیواله عفوه پدی هکله سخت اندیښمن دی. ټولی ډلي غواړي پر استوګنځایونو باندی بریدونه په دی دلیل توجیه کړی چې ددی ځای اوسیدونکي دیوی رقیبی ډلی ملاتړ کوونکي دي . د دی ډول وژنو ګزارش د هیواد له بیلابیلو سیمو څخه را رسیدلی دی، چې د دغه وژني زیاته برخه چه شمیر یی ۲۵۰۰۰ نه زیات دی، کابل کی وژل شوي دي » (پانه ۳۹، ۴۰)

-«په کال ۱۹۹۴ کی د درندی وسلي په ګټه اخیستني سره ، د کابل د غیرپوځیانو وژنی شمیرورځ په ورځ په زیاتیدو شو. ددغه کال په اګست کی د کابل دری روغتونونه تر برید لاندی راغلل چې دیرش څخه زیات ناروغان پکښی ووژل شول او طبی و سایل چې د ملګوو ملتونو د ماشومانو د صندوق (یونیسف) لخوا تهیه شوی وه هم له مینځه لاړل. د یو اټکل له مخی د سپتمبر ۱۲ نه تر اکتوبر ۱۲ پوری ۸۰۰ کسان ووژل شوی او ۱۷۰۰۰ تنو څخه زیات کسان ټپيان شول. زیاتره قربانیان بی وسلی ښځي او ماشومان وه. له ۲۱ نه تر ۲۴ اکتوبر پوری کلیوالو سیمو باندی د بمباریوپه اثر، داسی حال کی چې هلته هیڅ ډول پوځی فعالیتونه هم نه وو، ۹۵ تنه وژل شوی او ۲۹۰ تنه ټپیان شول. د توپ او هاوان د ویشتلو له امله د کابل پوهنتون په شاوخوا کی او په همدی میاشت کی دهمزنګ او په اصطلاح د تلویزیون غره په سیمه کی کم تر کمه ۴۵ تنه په قتل رسیدلی او ۱۵۰ تنه ټپیان شوی دي. عینی شاهدانو ګزارش ورکړی چې د بمونوڅخه یو په هغه ښونځی کی چې بی کوره شووخلکوپکښی پناه اخیستی وه راپریوت چې لس تنه یی مړ کړل». (پانه ۴۰)

« دکال ۱۹۹۵په مارچ کی د جمهور رئیس ربانی پلوی ځواکونه درنه حملی چې پکښی د جن ګی الوتکو څخه هم ګټه اخیستل کیده د کارته سه، شیعه میشته سیمي پرضد سر ته ورسوله. دا په ښکاره د هغی راکتی حملی ځواب وو چې ګواکی په کابل باندی د وحدت ګوند او د طالبانو له خوا سر ته رسیدلی وه. حال دا چې د وحدت ګوند دفاعی کرښی ماتی شوی وی او مورچلونه یی تش وه. او د ورکړ شوی ګزارشونو له مخی هیڅ ډول پوځی مقاومت موجوده نه وو.

---


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پتهله موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په خیر و لولئ

سره له دی، پوځی قوتونه په بی دفاع خلکو باندی   ګواروونه وکړ. دګوارش له مخی د جمهور رئيس ربانی   عسکرانود مارچ په ۱۲د کارته سه په ټولوبرخو کی غوغا جوړه کړه. کورنی یی لوټ کړل، بی وسلی خلک یی وهلو ټکولو لاندی ونیول، او مړه یی کړل او په ښخو باندی تیری وکړ». (پاڼه ۴۱)

-«د ۱۹۹۲ په اپريل کی د جمهوررئيس نجيب الله د حکومت د ړنګيدو نه وروسته پوځی وسايل، وسلی او مهماتو په ګډون چی د افغانستان د پوځ په لاس کی وه، په جګړه بوختو ډلو په لاس کی ولويده. ددی وسلو ډيره زياته اندازه د شورای نظار تر کنترول لاندی راغلی، خوبل ډير شمير يی، اسلامی ګون    د (حکمتيار)، دجنرال دوستم ملی-اسلامی غورځنګ او د وحدت   ګوند لاس ته   لاړو...د ۱۹۹۲ په اپريل کی   نظامی هوايی ډګرونه  په بګوام، کابل، شيندند، کندهار، جلال آباد، فيض آباد  او کندز کی فعاله وه. د کندهار او جلال آباد هوائی ډګرونو نه پرته، نور ټول ډګرونه د شورای نظار او جمعيت اسلامی تر کنترول لاندی راغلل. په سلګونه جنګی جتونه، توپ لرونکی هليکوپټری، او نور پوځی الوتکی چی د شورويانو څخه په دی اوه هوايی مرکزونوکی پاتی شوی وو، ... ورڅخه د   ۱۹۹۲ د اپريل نه را پديخواه په کابل او د هيواد په نورو سيمو کی د خلکو په استو   ګنځايونو باندی د يرغل دپاره خلکو ته د جزا ورکولو په خاطر په کار وړل شوی دي». (پاڼه ۴۵،۴۶)

- «د امريکا متحده ايالات د متقابلی استراتيژی په لمړی کرښی که ولاړ او مجاهدينوجن   ګيالی به يی په درندو وسلو چمتو کول ... د ۱۹۸۷ تر آخره پوری دهغه وسلو مجموعه چی امريکا لخوا برابره او يا ورکړ شوی وه ، ۶۵۰۰۰ ټُن ته رسيدله. چين هم درنی وسلی ليږدولی، بپاسی حال کی چی سعودی عربستان د وسلی اخيستل تمويلول. په دغو وسلو کی هم غير رهبری شوی راکټونه په زياته اندازه د مجاهدينو په واک کی پريښودل شو. د مهماتوديرو غټو ذخيرو څخه يوه لويه زيرمه په شنه نړی، کندهار ته نږدی په سرحدی سيمه کی د  ISI په واسطه جوړه شوی ده او تر  ۱۹۹۲ کال پوری ۶۰۰ کارکونکي درلوده. دا زيرمه د ۱۹۹۲ نه وروسته د جمعيت اسلامی، حزب اسلامی  او طالبانو تر مينځ ځو وار لاس بدلاس شو. د هغه راکټونونه چی د کابل او نورو سيمو استو  ګنځايونه ورسره وهل کيده، يوه برخه ددغسی زيرمو نه او پاتی يی د شوروی ساخت راکت اچوونکی وسايطو نه چه دنجيب        الله د حکومت نه پاته شوی وه ګټه اخيستل کيده.» (پاڼه ۳۵، ۳۶ )

-«ستوګنځايونو باندی د خوشه ای (کلستر)  بمونو استعمال د اکثرو رقيبو ډلو ګډه مشخصه ده. يوه عينی شاهد د هغه غچ اخيستونکی يرغل په برخه کی چی د اسماعيل خان ځواکونو لخوا د  ۱۹۹۵ کال د می په لومړيو په فراه کی سرته ورسيده نړيوالی عفوی ته وويل: ((هغوی زيات شمير خوشه ای بمونه وغورځول چی دهغه په واسطه   ۲۲۰ تر ۲۵۰ تنو پوری په قتل ورسيدل. اکثر وژل شوی کسان عادی خلک وو چی د هيڅ يو لوری     پلويان نه وه. مګو د اسماعيل خان مګ  ۲۱، مګ ۲۳، سو ۱۷ او سو ۱۸ الوتکی د استوګنځيوپر ضد په کار واچول شوی.)) » (پاڼه ۴۱)

<u>**سياسی قتلونه:**</u>

«په ۱۹۹۳کال، پيښور کی ولی خان کروخيل چی دسولی د پروسی سخت دريزه حمايت کوونکی وو، په پاکستان کی د ترور کيدونه دوه ورځی مخکی په افغانستان کی د ګاونديانود مداخلی په باره کی ويناوی کړی وی... ميرويس جليل خبريال چی BBC World Services ته کار کاوه د ۱۹۹۴ د جولای په ۲۹ نيټه په هغه سيمه کی چی ويل کيده د (حکمتيار) اسلامی ګوند واک لانده ده، تښتول شوی او ووژل شو. م   صطفی وزيری چی عکاس په حيث په يوه اونيزه مجلی که کار کاوه، د ۱۹۹۱ په مارچ ، کله چی خوست ديوی تنظيمی ډلی لخوا، د ځو عينی شاهدانو په وړاندی ونيول شو او تر اوسه د هغه څخه هيڅ اطلاع په لاس نشته». (ص ۵۸، ۵۹)

«جمعيت الله جلال،  په پيښور کـی د افغانستان د ملی وحدت     او تفاهم شورا جنرل سکرتر     او يو نوميالی افغانی روشنفکرچی داخلی جګړو سوله ايزی لاری  بيداکولوپه خاطر کار کاوه، په نا ځاپی توګه، د  ۱۹۹۵ د فبروری په ۱۸ نيټه پيښور کی په ناځاپی او مرموز ډول لادرک شو. غلام فاروق غرزی مخکی د کابل پوهنتون استاذ، د      ۱۹۹۴ د جون په دريمه د کابل جلال آباد لاری د کچ عزيز خان په سيمه کی د اسلامی ګوند (حکمتيار) د اطلاعاتو مامورينو لخوا ودرول شو. هغه ته وويل شو چی د موټر نه کوز شی. او له هغه وخته راهيسی يی ليدل شوی ندی. هغه مخکی د ۱۹۷۹ او ۱۹۸۷ تر مينځ د روسانو د پلوی حکومت لخوا بندی شوی وه.» (پاڼه ۶۴)


افغان جرمن آنلاين په درنښت ناسو همکاری ته رابولي.  په دغه پتهله موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنی د ليکنيزي بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده، هيله من يو خپله ليکنه له رااليږلو مخکي په ځير و لولـئ




(عکس په پاڼه ۳۵)

**تنظیمی زندانونه:**

« د۱۹۹۲اپریل نه راپدیخواه په زرگونو کسان تنظیمی گووپونو لخوا په پټه نیول شوی او بندیان شوی دي. په زرگونه کسان چې مخکې کلونو کې ددغه گووپونو لخواتښتول شوی تر اوسه پوری تری تم دي. دا چې په دقیقه توگه څو زره کسان پدی شمیر کی ندی راغلی شاید هیڅ وخت ښکاره نشی. ځکه دهغو کورنی ډیره ویریږی او خبرو کولو ته نه حاضریږی. تقریباً ټولی پټی بندونی سیاسی وجه لری. زیادتره قربانیان د وسله والو تنظیمی ډلو لخوا پدی خاطر تښتول شوی چې گمان یی کاوه دوی مقابل کی انتقادی دریځ لری، د یوی دښمنی خوا پلوی کوی او یا په ساده توگه د یوه قومی گروپ سره اړیکی لری چې هغه د دښمنی ډلی متحد دی. تیر ژمی( ۱۹۹۴ په لمړیو) په خوست کی یو زیات شمیر د ملحدانو په نامه بندیان شول. خو د قبیلی خلک پاڅیدل او اعلان یی وکړ چې دا کسان ددوی د قبیلی غړیتوب کی منل شوی دی نو ددی کبله ددوی اسارت به دجگړی پیل وی. جهادی گووپونه هغوی یی خوشی کړل». (پاڼه ۵۷)

«ځینی قربانیان د سیمی لاس په لاس گوځیدو په بهیر کی پیداشوی دی. ویل کیږی د وحدت گوند پوری اړوند یو زندان د ۱۹۹۵ کال په مارچ داسی وخت کی فتح شو چې دولت ځواکونو هغه موضع گلنی چې د کابل په لویدیځ کارته سه کی د وحدت گوند په لاس کی وی، ونیولی. دځرگنونو په مطابق ۱۵۰۰ زندانیان چې ۱۵۰ پکښی ښځی وی آزادشول. په دی ډول د پټو اسیرانو لوی اکثریت تر اوسه پوری ورک پاتی دی.» (پاڼه۵۷)

د شمشتو زندان چې په ظاهر کی د (حکمتیار) اسلامی گوند د وسلو زیرمه وه، د وسله والو ساتونکو لخوا یی ساتنه کیده. په دا زندان کی د۱۹۹۲ نه دمخه او وروسته ډیر شمیر بندیان ساتل کیدل. یوه شاهد چې د عبداشکور په نامه د یوه زندانی ورور وه بین المللی عفوی ته وویل چې عبدالشکور، د حقوقو پوهنځی فارغ اووده د کورنی ۵۰ کسان چې د جهاد په پلمه د اسلامی گوند لخوا نیول شوی وه په همدی زندان کی بندیان وو. د پخوانی زندانیانو د ځرگندونو په اساس

---

د پانو شمیره: له4تر5

په شمشتو زندان کی د اسلامی گوند ماموری د نوی بندیانو څخه پلټنی کولی او د ساتونکو لخوا په سوک او لغته وهلو ټکولو لاندی نیول کیده. یو له هغو څخه نړیوال عفوی ته وویل: ((هغو له لر گیو او اوسپنې میلو څخه کار اخیست. زمونږ ویشته یی وچ خړیل او زمونږ د ړیرو ویشان یی ایستل)). (ص ۵۸، ۵۹)

**جنسی تیری او وهل ټکول:**

- «بهتول افغانستان کی، نن سبا ښځی او نجونی تل په ویره کی دي څو د وسله والو یادو ډلو د تیری لاندی رانشی. یوه پنځلس کلنه جلی چهلستون کی د وسلوالو کسانوله خوا پر له پسی تیری لاندی راغله. هغی نړیوال عفوی ته وویل: ((هغوی زما پلارزما مخکی وواژه. هغه یو دوکاندار وو. د شپې ۹ بجی وی، هغوی زمونږ کور ته ننوتل او زما پلار ته یی وویل دستور لری هغه وژنی ځکه چی ماته یی اجازه راکړی ښوونځی ته ولاړشم. مجاهدینو زه ښوونځی ته له تلو څخه مخکی هم منع کړی وم. نشم کولای هغه څه ووایم جی زما د پلار له وژلو وروسته یی په ما وکړه...)). یوه بله ښځه چی د ۱۹۹۴ کال په پیل په شهرارا سیمی کی یی ژوند کاوه وویل: ((میره می د بمباریو په یوی حملی کی ووژل شو. یوه ورځ می خپل ماشومان پرېښود او د ډوډی راولو دپاره بهر ته لاړم، دوه کسه وسله وال مجاهدین له خوا په سړک کی ونیول شوم او یوه کور ته چی ددوی پلیگاه وه بیول شوم. هلته ۲۲ کسان دری ورځی پرله پسی پرما تیری وکړل. او وروسته بیا اجازه راکړه چی لاړشم. کله چی خپل کور ته لاړم، اولادونه می د ډیری یخنی له کبله مړه شوی وه.)) هغی اوس خپل اعصاب له لاسه ورکړی او په پیښور کی اوسیږی. (پاڼه ۶۸، ۶۹)
- یوه بله ښځه نړیوال عفوی ته وویل: ((لمړی د چهلستون له غړونو څخه د اسلامی گون د ځواکونو زمونږ بر استوکنځایونو د راکټ په توغولو پیل وکړ، وروسته له هغی د جنرال دوستم ځواکونو سیمی ته راغلل. هغوی گلم جم نومیدل. هغوی د پښتنو پسی گرځیدل. مونږپښتانه نه و نو زمونږ ژوند وژغورل شو. بله ورځ د اسلامی گوند وسله وال کسان راننوتل. هغوی ډیر ظلمونه او نا رواوی وکړی. د بیلگی په ډول، زمونږد کوڅی پر ځینی ځوانو ښځو یی تیری وکړ. یوه ځوانه ښځه یی له ځانه سره یوړه چی وروسته له څو ورځو یی لاش دسیمی په یو ځای کی وموندل شو .)) (پاڼه ۶۹)

دا وه د تنظیمی دوری د کړنو څو مثالونه. دا اعمال چی د جنگ په وخت کی، په جن گ کی د ښکیل ځواکونو له خوا ترسره شوی دي، دملی او بین المللی قوانینو په اساس جنگی جنایت بلل کیږی . څو ددغه جنایتونه عاملین تر اوسه پوری د معافیت د کلتور د حاکمیت له امله آزاد گرځی او ځان د افغانستان د سیاست، اقتصاد او حتی د سولی مالک بولی. لازمه ده ددغه جنایاتو قربانیانو ته د عدالت د تأمین دپاره په ملی او بین المللی کچه دوامداری هځی وشی. د معافیت کلتور د له مینځه وړلو د پاره د قربانیانو یو موټی هڅی ته سترگی په لاره یو.

«په اروپا کی د میشته افغانانو د ټولنو د فدراسیون د بشری حقونو کمیته»




افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پتهله موږ سره اړيکه ټينگه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په څير و لولئ